# د استاد ملنګ علمیار ژوند لیک

Ketabton.com

لیکوال : محمد بشیر مدنی

کال : 1402

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

《 بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ 》

ليكونكی : محمدبشير مدنی

داستاد ملنګ علميار لنډه پيژندنه

اروابناد مولوي محمد نذير اخندزاده چې په (استاد ملنک علميار ) مشهور وه د مرحوم قاضي محمد پذير اخندزاده زوی ، دمولوي محمد ياسين لمسی چې په 1338 هجري لمريز کال د وردګو ولايت ، چک ولسوالی دقولک لنګر په کلي کې په يوه علمي ، او متدينه کورنی کې زيږيدلی وه .

زده کړې يې :

لومړنی زده کړې يې د خپل پلار څخه په وردګو ولايت چک ولسوالی بيک سمند درې تېتنګ په کلي کې ترسره کړې بيا غزني ولايت د نورالمدارس فاروقي عالی مدرسې ته لاړ هلته يې تر اتم ټولګي پورې درس ووايه بيا د کمونستانو خونړی کودتا منځه ته راغله چی مرحوم علميار صاحب هم په خپل وار سره عملي جهاد ته ورودانګل چې وروسته به وضاحت ورکړل شي ، بيا په پاکستان کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ ، چی له نيکه بختنه د مديني منور ې په اسلامي پوهنتو ن کې قبول شو هلته يې د 1989 تر 1990 ميلادي کال پورې معهد لغت عربي تکميل کړ ، بيا د 1990 تر 1994 ميلادي کال پورې ددعوت او اصول الدين پوهنځی څخه دليسانس په کچه فارغ شو کله چې بيرته پيښور ته را ستون شو ، د پيښور پوهنتون څخه په 1995 تر 1997 کال پورې په ديني علوموکې د ماستری دوره تکميله کړه .

کاري تجربې :

په پيښور جلوزو کيمپ کې د محمد يې ليسې ښوونکی او فرهنګي مسؤول ، په پيښور جلوزو کيمپ کې د اتحاد عالي ليسې ښوونکی او فرهنګي مسؤول ، قاضی محمد حسن اسلامي ليکي : نه د اتحاد عالی لېسه وه نه يی درانه درانه استادن .... نه استاذ محمد نذير ملنګ علميار وه ... ، په پيښور جلوزو کيمپ کې د تربيې عالي ليسې ښوونکئ ، په پيښور جلوزو کيمپ کې د عمر بن عبد العزيز عالي ليسې ښوونکی ، د 1376 څخه تر 1391 شمسي کال پورې د ميدان وردګو ولايت د پوهنې رياست دديني زده کړو مرستيال ، د 1391 څخه تر 1400 ه شمسي کال د قوس د مياشتې تر 14 نيټې پورې د اسلامي زده کړو د معينيت د

ketabton.com - The Digital Library

دارالعلومو رياست اړوند د علمي او تدريسي آمر په حيث .
ښوونيز فعاليتونه :
1- په پيښور کی دعربی ژبې د کورس ناظم او استاد .
2-په پيښور کې د کانکور آمادګی د کورس ددري ژبې استاد ( آر – ای – ټي ) .
هغه علمی سيمينارونه چې ګډون يې په کې کړی :
1-په پيښور کې په 1996 ميلادی کال د بلجيم مؤ سسې د ښوونکو د روزنې ورکشاپ .
2- په پيښور کې په 1998 ميلادی کال د بلجيم مؤ سسې د ښوونکو د روزنې ورکشاپ .
3- په کابل کې په 2008 ميلادی کال د اداري اصلاحاتو د ارشد رهبری د کميسيون ورکشاپ .
هغه مضامين چې تدريس کول يې :
1-تفسير .
2-حديث .
3-فقه .
4-عقايد .
5-تاريخ .
6- جغرافيه .
7- پښتو .
8- دری ،
9- عربی .
ليکنې او ژباړې يې :
1-منهج عمر رضی الله عنه فی الدعوة . ليکنه .
2-حيات محمد صلی الله عليه وسلم قبل البعثة . ليکنه .
3- حکم من سبَ الصحابة ليکنه .
4- العلاج بالرقية من القرآن والسنة . ليکنه .
5-د نهم ټولګي د تاريخ کتاب . پښتو ژبې ته ژباړه .

ketabton.com - The Digital Library

6-مدنی معلومات . پښتو ژبې ته ژباړه .
7- د یوولسم ټولګي د عقاید کتاب / پښتو ژبې ته ژباړه .
8- ځلوېښت حدیثونه / پښتو ژبې ته ژباړه .
9- مسنونې دعاګانې / پښتو ژبې ته ژباړه .
10- د خلیل جبران لنډې کیسې / پښتو ژبې ته ژباړه .
11- پنج دانه برتقال / پښتو ژبې ته ژباړه .
12- وقائع مختصر افغانستان / پښتو ژبې ته ژباړه .

سیاسي ژوند یې :

دداؤد خان په اخرینو وختو کی چې کله مرحوم علمیار صاحب د غزنی په نورالمدارس مدرسه کی په درس بوخت وه کمونستانو خپل پروګرامونه عملی کول غوښتل چی په مقابل کې یې مسلمانانو هم ترډېرې کچې هڅه کوله تر څو یې مخه ونیسي مګر متأسفانه چې ډېر حساس ځایونه یې تر ګوتو کړي وه د شوروی اتحاد په مستقیمه همکاری دکمونستانو خونړی کودتا دغوایی په اوومه د۱۳۵۷ هش کال منځ ته راغله چې دظلم اوخرابۍ تهداب دهمدې ورځې څخه کیښودل شو اود افغانستان مسلمان ملت یې لولپه او تر اوسه دغه ستونزې دوام لری ، کله چی کمونستانو عملا قدرت په لاس کې ونیو نو داسلام په ضد یې هره توطیه په کار واچوله له دې جملې څخه دفکرې مسلمانانو نیول او په شهادت رسول وه داچی مرحوم علمیار صاحب هم پخپله مدرسه کې یو بااحساسه ځوان وه د ژوند ساحه یې تنګه شوه د پیښور په لار یې مخه او عملی جهاد ته یې متې را بډوهلی .

دهجرت لار: محمد زبیر شفیقی صاحب لیکي : دثوردکودتا څخه وروسته لومړي کسان چې دهجرت لارېې ونیوله ............ مولوی محمدپذیر اوملنګ دهغه زوی وه .

یقینا چی مرحوم علمیار صاحب دهغو لومړنیو کسانو څخه وه چی مهاجرشو او بیابیرته د پیښورڅخه تر کابل بیاتر وردګوپورې د رابط په حیث خپله دنده مخکې بیوله چی زیات شمیر علماء کرام او مجاهدین یې دهجرت کورته ورسول چې ددې علمای کرامو له ډلې څخه یوهم زموږ والد صاحب وه چې دهجرت لارېې غوره کړه .

داچی مرحوم مولوی صاحب ( زموږ والد صاحب ) دوېښ احساس خاوندوه دخپل

ketabton.com - The Digital Library

ايمانی احساس اودينی مسؤليت په سرته رسولوسره بې دهجرت لارغوره وبلله په منطقه کې بې نورژوند تريخ شود ټټنګ دکلی دمرحوم حاجی صاحب عبد الغنی او دهغه د ځوی ميرولی په ملګرتيا دهلمند ولايت د مرجې ولسوالي په نهم بلاک کې چې د مولوی صاحب د ماما زامن هريو هدايت الله او عتيق الله په نوم اوسيدل دهغوی سره يی درې مياشتې تيرې او بيرته کلی ته راستون شو ، داچې زما مشر ورور مرحوم استاد ملنګ مخکې پيښورته تللی وه لاراو ګودر ورته معلوم وه کورته راغی ، پلار او زوی دواړه سره يوځای د مشورې څخه وروسته په دی سلاشول چې سبابه ان شاء الله هجرت کوو ، زه چې په هغه وخت کې وړوکی وم دپلارسره مې يوځای د ټټنک د کلی مو مابښام ناوخته قولک لنګرته درسيدو په هيله حرکت وکړ دکلي نه چې راووتو وضع ډيره زياته خرابه وه هرلوري ته دکمونستانودپلويانوکوکارې اودهوراهوراسورې يې وهلې کله چې د لنګردښتې ته راورسيدو نو خلقيانوچيغې زياتې شوې باران اوريده ډيريخ وه شپه په راتلووه هلته په اديره کې څه موده پاتې شووزه بالکل حيران وم چې چيرته روان يو او څه به کيږي کله چې شپه په ټينکيدوشوه دخلقيانو چيغی او سورې هم څه ناڅه په کراريدوشوي ، مولوی صاحب مرحوم پاڅيده ماويل : کاکاچيرې ځو ، هغه روان شو او زه ورپسې شوم ، دلنګردکلی څخه دقبلې خواته يوکور جوړشوی وه چې داد بسم الله ماماوه او ميرمن يې دقولک دکلي وه موږبه ترور( خاله ) ورته ويله هلته ورغلوددروازې ټکيدل خو يوناشونی کار بام ته مو تيرې ورواچولې هغوی په ډيره ويره ورو ورو غږ وکړ څوک يې ، زما کاکا خپل ځان ورته معرفی کړ او دروازه يې خلاصه کړه چې هلته څه وخت په ويښوپاتې شوو دسهار درا ختو څخه مخکې ددوی دکورڅخه ووتو او قولک ته مو ځان ورساوه هلته زما دخاله کوروه چې خاوند محمد انور نوميده بياوروسته زما خسرهم شو هلته مو دغه تيره ماسپښين مهال زما مشرورور استاد ملنګ مرحوم هلته راغی اودشپې دقولک دکلي څخه دهجرت په لورروان شول ، زه بيرته ټټنګ کلی ته ستون شوم ، اودوي دواړو پيښورته هجرت وکړ، لکه څنګه چې مولوی صاحب ديوويښ ضمير څښتن وه او لادمخه دافغانستان داسلامی حزب سره ئی اړيکی درلودې نو په ورسک نمبريوسيمه کې چې دګوتو په شمير مجاهدين هلته رسيدلی وه ورسره يوځای شو .

دچک د ولسوالي فتحه :

ketabton.com - The Digital Library

شفیقی صاحب لیکي : درهبری له مرکز څخه په 1357 او 1358 شمسی کلونوکي ............... اوملنګ ( چې زمامشرورور دی ) جلا جلا وردګوده راولیږل شول ترڅو دسیمې وضعیت درک او له وربنودل شویو کسانوسره اړیکې ټینګې کړي ،
دکفاروپه ضد دخلکوکرکه زیاته شوه چې پدې هکله دغه ډګر ته دسیمې یو شمیرمؤمن کسان شامل شول او عملایې دکفاروپه ضد دجهاد سنګرته وردانګل چې دپاڅون په زمینې برابرولوکې یې ددایمیردادو علاقه داری په سطحه ............ ملنګ ( زمامشر ورور ) او ځینې نورکسان دیادولو وړدي ، په عمومي ډول دغه ورونړوته په مستقیم ډول له مرکزي حوزې څخه دشهید مدیر محمد ولی خان او ځینې نورو ورونړولخوا هدایت ورکول کیده وروسته بیادغه تیت او پرک فعالیتونه د .......... ملنګ او ځینونورو په هڅه اوهاند سره سو او متحد شول .
- شفیقی صاحب لیکي :
دخوات بیګ سمند او اله سنګ حوزه ، د ملامحمد پذیر زوی ملنګ چې دپیبنورڅخه دحوت په میاشت کې سیمې ته راغئ اوپه سیمه کې دعلیشې ، انبوخاک ، اله سنګ ، بیګ سمند او ګوډه له ځنوکسانوسره په فعالیت پیل وکړ ، دیادونې وړده : چې کوموکسانوچې له ملنګ سره ارتباط پیداکړ، له هغه څخه یې پخواله حزب سره اړیکې درلودې خو ملنګ ورته دمرکزیت حیثیت غوره کړ .
داسلامی تحریک دمرکزي حوزې اودرهبری له مرکز«پیښور» سره ملنګ ......... او ځینې نورکسان په تماس کې وو،چې دغه ورونړولومړی په سیمه کې ځانګړي ځانګړي دفعالیت ساحه درلوده وروسته دغه ساحې سره ونښلول شي اوپه یوه قومانده پربریالي پاڅون سرته وسیدې .
- کله چې محمد امین ماما له پیښورنه راغئ دسیمې او مرکزي حوزې درابط په حیث یې کار پیل کړ ، وروسته بیا ملنګ ............ هم په پراخو فعالیتونولاس پورې کړ .
- دټوپکو دویش په جریان کې آوازه خپره شوه چې هزاره ګان په وردګوحمله کوی ددی کار په جریان کې چې څه تدبیرونیسي دجوزاپه اتمه نیټه لاندی کسان سره جرګه شول : ....... ملنګ ، او ځینونوروکسانو دحسین کلاپه غره کې غونډه وکړه چې په نتیجه کې : ......... اوملنګ دعلاقه داری او هزاره ګانو

ketabton.com - The Digital Library

داطمئنان او ارتباط لپاره واستول شول، شپه یی په گوډه کې تیره کړه سباپه دالان
کی دعبد الکبیرخان او نورو مجاهدینوسره وکتل .
په اړه ئی دخپلو دوستانوځرگندونی :
۱- قاضی محمد حسن اسلامی د مرحوم قاضی صاحب محمد پذیرپه یاد کې لیکې
:
هلته چی د نورمحمد ترکی له ناولی کودتا وروسته هجرت ته مجبور شوم زه او
قاضی فیصل پیښور ته لاړو د ورسک کیمپ د یو شمیر هغو مبارزینو پنډغالی ته
ورغلو چی هغوی هم زموږ غوندی د کمونستانو له د ظلم له لاسه خپل وطن پری
ایښی وو او په هجرت مجبورکړی شوی وو، په دی کیمپ کی می یو ترټولو
سپین ږیری عالم ولید چی مولوی محمد پذیر د بکسمند یو مدرس عالم وو اوبل
می نسبتا ترټولو کوچونی مهاجر ولید چی هغه د مولوی صاحب تنکی زوی محمد
نذیر ملنگ وو دوی دواړه چی د خپل کور مشرانان او سرپرستان وو، سړی فکر
کاوه چی ځُرتونه به وهی خو مولوی صاحب د همت او استقامت یو اوچت غروو
، موږ ته به یی ډاډ را کاوه خپه کیږی مه الله جل جلاله به کمونستان ورک کړی
وطن به آزاد شی سرلوړی به خپل وطن ته زو، خو کم وخت تیرشو چی وردگو
ته دجهاد لپاره راغلو له پیښوره تر وردگو په ۱۳ ورځو کی راورسیدو د دی
سختی خطرناکی اوگدی لاری مشکلات ما په خپلو خاطرو کی لیکلی دی ډوډی نه
وه لاره سخته اوږده د غرو رغونو هسکی ټیټی د شپی د زرملی د ماښامه څخه
تر سهاره مزل وهل څه عادی خبره نه وه بیا مولوی صاحب محمد پذیر غوندی
یوه سپین ږیری عالم ته او ورسره تنکی ځوان زوی به یی په لوړو ژورو کی به
مو تیندکونه خوړل او چیری به په مابه تل ورسره بحث کاوه ، ژورعلم یی درلود
اوتل به یی خپل معلومات په نوې اصطلاح آبدیت ساته ، هغه د سنگر مفتی وه ،
دجهاد قاضی وه ، اوهرعالم دیته زړه نشوای نیولی ، هغه د قوی عزم ، کلک
تصمیم ، کلکې ارادې او بشپړتوکل څښتن ؤو .
الله جل جلاه د جنتونه ورکړي ، د جهاد او هجرت په سختیوکې ئې خپل زامن ښه
عالمان کړل استاد ملنگ (محمد نذیر علمیار) او استاد محمد بشیر مدني داسلامی
علومودزده کړې لپاره سعودی ته واستول او الحمد لله چې ښه عالمان خپل وطن
ته راغلل اود هیواد تکړه کدرونه شول ،الله جل جلاله د مرحوم قاضی صاحب ته
جنتونه ورکړي او اولاره ئی دله لارویانوډکه وه .

ketabton.com - The Digital Library

۲- دزبیر شفیقي نظرمخکې د هجرت په لارکی تیرشو ..........
دالیکنه مې په ډیره عجله وړاندی کړه که د الله جل جلاله خوښه وه ډیر ژر به ان شاء الله ولیکم اوباید ویې لیکم ځکه مرحوم استاد زما یواځینی وروروه ، د کمونستانو او بیا د روسانو په ضد یې په ډیر اخلاص سره مبارزه او جهاد وکړ، په ځوانی کې یې هجرت وکړ ډیر تکلیفونه یې ولیدل الله جل جلاله یې ورته قبول کړی .
د یکشنبې په ورځ د سهار په نهه بجو کې یې چې د 1400 کال د قوس د میاشتې په 14 نیټه د یکشنبې په ورځ د سهار په نهه بجو کې یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړي ، او مونږ یې د تل لپاره یوځې پریښودو .
اناالله و انا الیه راجعون
ترتیب کوونکی : طلحه مدنی

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*